یادداشت پورتال افغان جرمن آنلاین
اعلامیهٔ دفتر سیاسی حزب اسلامی را صرف جهت معلومات و آگاهی خوانندگان گرامی به نشر سپردیم و از نشر آن هیچگونه منظور سیاسی در نظر نیست.

*************

د افغانستان د اسلامی حزب سیاسی دفتر ۲۰۱۰/۱/۲۷

# د افغانستان په اړه په لندن کې د جوړیدونکی کنفرانس په خاطر : دافغانستان د اسلامي حزب دسیاسي دفتر اعلامیه

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د دلوې اوم ، ۱۳۸۸**

د افغانستان اسلامي حزب ، په ګران هیواد افغانستان ،د ۲۰۰۱ ز کال د امریکایي ځواکونو او دهغې د ناټو د ټلوالي عسکري یرغل یوغیر انساني، او دټولو بین المللي نورمونو پرخلاف عمل ګڼي او ددې ټلوالي په لاسو دهیواد اشغال او دهیواد سیاسي استقلال او ځمکني تمامیت له منځه وړل په کلکه غندی. ددغه اشغال په پایلو کي تر اوسه پورې زمونږ دمومن اومجاهد ولس په سلګونه زره معصوم کوچنیان، ښځې، نارینه، زاړه او ځوانان په مختلفو بهانو په ډیره بیرحمانه توګه بمباري شوی، او په سلګونو زره بې کوره شوې او زیات شمیر نوریي معیوب کړل شوی دي. د امریکا د اشغالګرو ځواکونو په مشرۍ د بین المللي ټولني تر نامه لاندې یوشمیرهیوادونه هڅه کوي چي افغانستان لکه د روسي د سرې، له منځه تللي، امپراتورۍ په څیر یوځل بیا دخپل فوځې اشغال لاندې راوړي او د افغانستان ازاد او خپلواک ولس چي د تاریخ په اوږودو کې تر اوسه پورې د هیڅ اشغالګر ځواک او زورته ندې تسلیم شوي، د ټوپک په زور ترخپلې ولکې لاندې راوړي خو د افغانستان مومن او مجاهد ولس هوډمن دې چې دهغوې دغه خوب به هیڅکله هم دهغوې دخوښې تعبیر ته پرې نه ږدي.

د جهاد او مقاومت لارښود او دجهاد سالار، دحزب اسلامي امیر، محترم وروره‌کمتیارغربي هیوادنوته په خپل لیک کي په څرګنده توګه ډاګیزه کړی اوهغوې ته یې د رواني ورانوونکي او خونړۍ جګړې په اړه ځینې دردناك حقایق داسې بیان کړي :

- امریکایانو په دې نامه پر افغانستان برید وکړ چي القاعده ته د یولسم ستمبر پېښو سزا ورکړي او د هغو طالبانو حکومت نسکور کړي چي القاعده ته ئې پناه ورکړې وه او تیار نه وو چي مشران ئې متحده ایالاتو ته تسلیم کړي. د اروپایي هېوادو مشرانو په دې ظالمانه برید کي په پټو سترګو د د دوی مرسته او ملګرتیا وکړه او خپلو ولسونو ته ئې وویل چي القاعده د اروپا لپاره هم ستر ګواښ دئ، ځینو ئې د خپلو ولسونو د غولولو لپاره ویل چې زموږ امنیت د افغانستان په وضعیت پوري تړلی دئ، زموږ فوځونه د هندوکش په لمنو کي د خپل هېواد د امنیت لپاره جنګېږي!! خو دا دئ د طالبانو د حکومت له نسکورېدو اته کاله تېر شول، نن د القاعدې په اړه امریکایي چاروا‌کي په خپله وایي چي اوس په دې سیمې کي د القاعده تر سلو لږ غړي پاته دي چي هغوی هم د افغانستان او پاکستان تر منځ په قبایلي سیمو کي پټ دي!! خو دوی سره له دې په افغانستان کي په پاته کېدو او زموږ هېواد ته د نورو ځواکونو په لېږلو ټینګار کوي، تر یولك لس زره زیات بې وزلي افغانان ئې ووژل، په زرګونو ئې ونیول او په بې رحمانه او وحشیانه توګه ئې تعذیب کړل، په سلګونو کلي ئې نسکور او له خاورو سره برابر کړل، تر نیم ملیون زیات افغانان ئې د خپلو کلیو او کورونو پرېښودو ته اړ کړل، خو لا ئې زړه نه دئ سوړ شوی او د لازیاتو نورو افغانانو وینو تویولو ته لېواله دي! امریکایي چاروا‌کي له اتو کلونو بمباریو وروسته بیا هم وایي چي زموږ اهداف نه دي ترسره شوي او خپلو موخو ته نه یو رسېدلي.

- دوی وایي چي له افغانستان نه څو زره میله لرې د اروپا او امریکا امنیت ته ګواښ متوجه دئ!! دا په داسې حال کي چي نه تر یولسم ستمبر مخکي او نه وروسته هیڅ افغان په اروپا او امریکا کي د دوی په ضد کوم نظامي عمل


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

نه دئ کړی!! د یولسم ستمبر عملیات په اروپا او امریکا کي تنظیم شوي، نه په افغانستان او عراق کي، دا عملیات د هغو جنګیالیو په لاس تر سره شوي چي یا په اروپا او امریکا کي زیږېدلي او یا هلته روزل شوي، نه افغانان ول او نه په افغانستان کي روزل شوي. ټول خلك پوهېږي چي دغو جنګیالیو د پیلوټي کورسونه په افغانستان کي نه بلکي په امریکا کي بشپړ کړي او هملته ئي د دې عملیاتو پلان جوړ کړی وو؟!

- ځیني اروپایي مشران دا خندوونکي او مسخره ادعاء کوي چي ګواکي غواړي په افغانستان کي دیموکراسي راولي!! شوروي اتحاد هم دي ته ورته ادعاء کوله، د افغانستان کمونیست حزب (د خلق دیمکراتیك ګوند) نومېدو. د امریکایي دیموکراسی اصلي څېره، نه یوازي د اشغالګرو فوځونو بې رحمانه او وحشیانه بمباریو او د بې ګناه افغانانو ډله ییزو وژنو او هغه څه چي د بګرام، ګوانتانامو، کندهار او په نورو امریکایي زندانو کي له مظلومو زندانیانو سره شوي، نړۍ والو ته بربنډه کړه بلکي په افغانستان کي د امریکایي انتخاباتو مسخره لوبي هم د دې دیموکراسی ماهیت بربنډ کړ، اوس به د کابل د امریکایي حکومت رئیس هغه څوك وي چي د افغانستان له اشغال نه وروسته په بن کي جمهور رئیس وټاکل شو او له خپلي کابینې سره یو ځای له جرمني نه کابل ته انتقال شو، او په دې انتخاباتو کي ئې له دېرش ملیونو افغانانو نه یوازي دوه نیم ملیونه رأیي ترلاسه کړې او هغه هم جعلي او تقلبي رأیي!!
- د کندز، شینډنډ، بالابلوك، خوست، پکتیکا، ننګرهار او د افغانستان د ګوټ ګوټ عام وژني او پر کورونو د ډرون جهازونو په راکټي بریدونو کي د ماشومانو، ښځو او بوډاګانو وژل به د تل لپاره ستاسو او ستاسو د دیموکراسی پر تندي تور داغ وي، ستاسو دا جنایت به د تل لپاره پټ نه پاته کېږي چي په دې بریدونو کي تاسو نیم غني شوي یورانیم کارولي، په دې خبري به ډېر ژر ستاسو جنرالان په خپله خوله اعتراف کوي او نړی وال به پرتاسو لعنت وایي.
- باید پوه شئ چي د خپلو فوځونو په زیاتولو سره له دې پرته چي لازیات بې وزلي افغانان ووژنئ او د خپلو سرپلورو فوځیانو لازیات تابوتونه امریکا او اروپا ته انتقال کړئ بل څه نشئ ترلاسه کولی. په جنګونو سره خپل مخالفین نشئ ختمولی، تجربو ښوده چي هر جنګ ستاسو په ضد جنګېدونکي دوه برابره زیات کړي، په افغانستان کي هم او په نړۍ کي هم، په افغانستان کي جنګ له شرق او جنوب نه شمال او غرب ته وغزېدو.
- کوم حکومت چي تاسو په کابل کي جوړ کړی د غلو، جنګي جنایتکارانو، مفسدینو، ملي خائنانو او وطن پلورونکو اډه ده، په فساد او اختلاس کي تر ستوني غرق دي، ملت تري کرکه لري، د هېواد له اداری عاجز دئ، که نن تاسو ووځئ سبا به دا حکومت نسکورېږي.
- له دې جګړي نه که هر څومره اوږده شي، او حتی ستاسو په زعم بریا هم ترلاسه کړئ؛ چي محال ده، امریکا او اروپا ته به ئي هیڅ ګټه ونه رسېږي. د دې جګړي ګټه یا د وسلو جوړولو کمپنیو ته رسېږي، یا هغو جنرالانو ته چي د نظامي بودجې لویه برخه د دوی او د دوی د غلو افغاني ملګرو په جیبونو کي لوېږي، د جګړي قربانیان یا مظلوم افغانان دي یا هغه امریکایان او اروپایان چي د مور او پلار له رضایت نه پرته په یوه نامقدس جنګ کي د مرګ کومي ته لیږل کېږي.
- افغانان به پري نږدي چي هغه توطئه بیا تکرار شي چي په ۱۹۹۲کي د سي آی اې او کې جي بي له لوري پلې شوه او په ترڅ کي ئي په امریکا پوري تړلي ډلي له کمونیستانو سره یو ځای شوې، په کابل کي ئي ائتلافي حکومت جوړ کړ او د مجاهدینو په ضد ئي مخکنی جګړه جاري وساتله.
- د لویې بریتانیا او شوروي له ماتي پند واخلئ، د تاریخ په اوږدو کي هیڅ ځواك د خپلو وسلو په زور او د جنګ له لاري نه دئ توانېدلی چي افغانستان د اوږدې مودې لپاره اشغال کړي.
- ستاسو جنګي ماشین په افغانستان کي له کاره لوېدلی، ستاسي جنګي وسایل د داسي جنګونو لپاره نه دي جوړ شوي، دلته یو کس کولی شي په لږو باروتو او یوه ریموټ کنټرول سره ستاسو آخرین ماډل ټانك له منځه یوسي او سورلی ئي مړه یا ژوبل کړي، د دې چاودني هر څه په خپله جوړوي او ټول لګښت ئي سلو ډالرو ته نه رسېږي.
- پرېږدئ چي افغانان خپل مشکل په خپله حل کړي، تاسو څه مار پر سر چیچلي یئ چي له څو زرو کیلومترو لري افغانستان ته راځئ او خپل زامن خوشي او د هیڅ لپاره د مرګ کومي ته لیږئ.



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

■ د افغان ولس د اکثريت پرېکړي ته درناوی وکړئ، که هغوی نه تاسو مني او نه ستاسو په لاس ټپل شوی حکومت، نو پرې ئې ږدئ چي خپل برخليك په خپل لاس او د پرديو له لاسوهنو او مداخلو پرته وټاکي، آيا ستاسو ديموکراسي له دې پرته بل څه وايي؟ آيا تاسو ته مسيح عليه السلام له دې پرته بل څه ويلي؟

■ په دې يوه شئ چي راتلونکي کالونه به تر مخکنيو لازيات تاسو ته خطرناك او خونړي وي، دلازياتو فوځونو لېږلو ته به اړ شئ او لازيات تابوتونه به انتقال کړئ، مقاومت به لازيات مضبوط او پراخ شي، وبه گورئ چي د افغانستان هيڅ سيمه به ستاسو لپاره خوندي سيمه نه وي، په هر ځای کي به له بريدونو سره مخامخ کېږئ.

■ افغانان په دې حقيقت ښه پوه شوی چي په ښارونو، جوماتونو، مدرسو، مکتبونو او د خلګو د ازدحام په ځايونو کي هغه چاودني چي عام ولس ته په کي مرګ ژوبله اوړي او ملکي تأسيسات په کي تخريبېږي، ټول ئې ستاسو استخباراتي شبکي کوي؛ نه مجاهدين، نور نو په داسي کارونو سره نشئ کولی چي ولس له مجاهدينو بېل کړئ.

■ د هغو جنرالانو رأيه بې اهميته مه گڼئ چي درته وايي: د افغانستان جنگ د فوځونو د زياتولو له لاري نشو گټلی، بايد خپل فوځونه وباسو او افغانان پرېږدو چي خپله ستونزه په خپله حل کړي، ولي په بې مقصده او بې ګټي جګړي د سلګونو ملياردو ډالرو د لګولو پر ځای په دې پيسو د خپلو خلکو مالي مشکلات حل نه کړو.

■ که تاسو په ديموکراسی باور لرئ نو ولي د خپلو ولسونو د اکثريت دې غوښتني ته درناوی نه کوئ چي وايي: د پرديو د ګټو لپاره زموږ زامن د مرګ کومي ته مه لېږئ، زموږ د امنيت لپاره د هندوکش په لمنو کي نه بلکي دلته په واشنګټن، لندن، پاريس، بن او روم کي څه وکړئ، د القاعده مخه په اروپا، امريکا او آسټراليا کي ونيسئ، تاسو په خپله اعتراف کوئ چي په افغانستان کي د القاعده غړي نشته، که له دوی نه څوك پاته وي نو د هغوی شمېر تر سلو لږ دئ او هغوی هم د پاکستان په قبايلي سيمو کي پټ شوي، پاکستان خو د هغوی په ضد جګړي کي ستاسو مرستي ته اړ نه دئ او تاسو د پاکستان د مرستي لپاره په افغانستان کي پاته کېدو ته هم ضرورت نه لرئ، نو په افغانستان کي څه کوئ؟!

■ زه د افغان ولس په استازيتوب تاسو ته وايم: که له افغانستان نه د باعزته وتلو لار لټوئ موږ مو مرسته کولی شو؛ جګړي د پای ته رسېدو او د بحران د حل يوازنۍ لار دا ده:
۱. د بهرنيو فوځونو بلاقيد و شرط او بشپړ وتل،
۲. د وتلو لپاره معقول مهال وېش ټاکل،
۳. يوه موقت غير ائتلافي حکومت ته د قدرت انتقال،
٤. په آزاد او خپلواك افغانستان کي د آزادو او عادلانه انتخاباتو له لاري د ملت د خوښي اسلامي حکومت جوړول.

■ خو که تاسو د افغانستان په اشغال او د جګړي پر دوام ټينګار وکړئ نو پوه شئ چي زموږ سا پخه ده، همت مو لوړ دئ، عزم مو کلك دئ، په جګړو کي پاخه شوي او روزل شوي يو، د ستونزو ګاللو او د قربانيو ورکولو ته چمتو يو، هر افغان له ځان سره وايي: که يو اروپايي او امريکايي له څو زرو ميلو آخوا زما هېواد ته راځي او ما وژني نو آيا زما ملا ماته ده چي په خپل هېواد کي له خپل ځان، عزت او وطن نه دفاع ونه کړم او پرېږدم چي دلته د پرديو بيرغونه رپېږي!! زه له هر سپين پوستي او مسيحي نه پوښتنه کوم چي آيا تاسو دا منئ چي د کور مخي ته مو کوم پردی وسله وال فوځي پهره کوي، تا نيسي او د خپلي خوښي زندان ته دي وړي او ستا په هېواد کي د بل هېواد بيرغ رپېږي؟!! که ته دا نشي منلی نو له هغو سرلوړو افغانانو نه څنګه دا طمعه کوئ چي د تاريخ په اوږدو کي ئې کله هم د پرديو غلامي ته سر نه دئ ټيټ کړئ او د هغوی سلطه ئې نه ده منلې. ښه پوه شئ چي له وتلو پرته بله د حل لار نشئ موندلی.

ژوندي دې وي افغان مؤمن او مجاهد او سر لوړی ولس .



افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
**maqalat@afghan-german.de**